زمونږ

عقاید

زمونږ عقـاید

SGM International

فـــهرست

عـــــــنوان	پـــانه
سریزه	۵
یادونه	۷
مؤخذونه	۷
خدای، قادر مطلق پلار	۸
عیسی مسیح	۱۱
ـ د پیغلې مریمې څخه پیدا شو	۱۴
ـ په سولۍ او ښخ کړای شو	۱۶
ـ د مړو عالم ته ورښکته شو	۲۰
ـ په دریمه ورځ بیرته پورته کړای شو	۲۳
ـ آسمان ته پاس اوچت کړای شو	۲۶
ـ بیرته به راستون شي	۲۹
په روح القدس	۳۲
نړیواله سپیڅلې کلیسا	۳۵
د سپیڅلو په مشارکت	۳۷
د ګناهونو په بخښنه	۳۹
د مړو په بیا ژوندي کیدو	۴۲
په تل پاتې ژوندون	۴۵
د رسولانو عقیده	۴۸
ځاني عقیده	۴۹

سریزه:

د مسیحیت د هم هغه پیل څخه د مسیح پیروان هغه کسان وو چه په خاصو شیانو یې باور درلود. په کرار کرار همدا باورنې د هغوی په عقایدو بدلې شوې.

عقاید د مقدس کتاب دتعلیماتو څخه عبارت دی، نو له دې کبله دواقعي مسیحیت لپاره د مهم آزمیښت په توګه را څرګند شو.
نن ورځ په ټوله نړۍ کې، مسیحیان دا عقاید د خپل ایمان د څرګندونې په توګه کاروي. په دې کتاب کې آیات د مقدس کتابه څخه اخیستل شوي دي، ترڅو دا موضوع روښانه کړي چه ولې مسیحیان په خپلو عقایدو باندې ایمان لري ؟

نو په دې توګه عقیدې د مسیحي کلیسا د هم هغه پیل څخه کارول شوي دي. په پیل کې به عقاید د سوال و ځواب په بڼه د بپتسمې یا د تعمید د غسل پر وخت کارول کیدل. هغه چا به چه غوښتل چه د یو مسیحي په توګه بپتسمه واخلي، ورڅخه به دا ډول پوښتنې کیدې: «آیا تاسو په هغه پلار خدای چه قادر مطلق ذات دی ایمان لرئ؟» نوموړی کس باید داسې ځواب ورکړی وای: « هو ایمان لرم ».

د وخت په تیریدو سره ددې پوښتنو سلسله چه د مسیحي ایمان لاړمي اړخونه پکښې شامل وو، نوره هم پراخه شوه. وروسته په لومړي ځل

تقریباً د څلورمې پیړۍ نیمایي کې «درسولانو عقاید» منځ ته راغلل چه هغه ته د رسولانو د ایمان ټکي هم وئیلې شوي دي، چه د لومړنیو کلیسا ګانو د مشرانو د زده کړو او لارښوونو موضوع ګاني پکښې خلاصه شوې دي. نن ورځ هم دا عقیده اکثراً په مسیحي عبادت او پرستش کې د ایمان د اقرار په توګه کارول کیږي.

یادونه:

ددې رسالې آیتونه د مقدس کتابه څخه اخیستل شوي دي. البته د دې کتاب ډیرې ښې ژباړنې(ترجمې) شته دي چه ټول د یوه پیغام رسوونکې دي. په دې رسالې نقل شوي آیتونه یا حوالې د دوو کتابونو نه په استفادې سره راټول شوي دي. یو " کتاب مقدس ترجمۀ تفسیري " (چه په فارسی ژبه لیکل شوی دی) او بل "اِ نجیل شریف یعنے دَ مالِک عیسی مسِیح زیرے ".

مؤخذونه:

د هر آیت په آخره کې د هغه مؤخذ یا حواله ورکړل شوې ده تر څو وښودلای شي چه دا آیت د مقدس کتاب د کومه ځایه څخه اخیستل شوی دی .

مقدس کتاب په نورو کتابونو، فصلونو او آیتونو ویشل شوی دی. د مثال په توګه: (مرقس ۱۰ : ۴۵) څخه مقصد د مرقس د کتاب یا انجیل لسم فصل ۴۵ ایت دی. او یا (اول کورنتیان ۱۵: ۳ _ ۵) څخه مطلب د کورنتیانو په نامه لیک پنځلسم فصل او دریم نه تر پنځم ایت دی.

د مقدس کتاب هره نسخه په خپل پیل کې د مطالبو فهرست لري چه د پام وړ کتاب د موندلو لپاره ترینه کار اخیستل کیږي .

ایمان ...

په خدای، قادر مطلق پلار، دمځکې او آسمان پیداکوونکی

او دټولو خدای او پلار هم یو دی ځوک چه د ټولو د پاسه، د ټولو په منځ کښې او په ټولو کښې دی. (خط د افسیانو په نوم خط ۴ : ۶)

خو زمونږ خو یو خدای دی، یعنې خدای پلار، چه د چا له طرف نه ټول څیزونه دي او مونږ د هغه د پاره ژوندي یو...
(اول خط د کورنتیانو په نوم ۸ :۶)

موسی ووئیل: « یواځې هغه خدای چه وجود لري ، زمونږ څښتن دی.»
(تثنیه ۶ : ۴)

داود پادشاه ولیکل: « ته ستر او غښتلی یې او معجزې تر سره کولی شې ; یواځې ته خدای یې. » (زبور ۸۶ : ۱۰)

او هغه همدا راز ولیکل : «ای زما ربه ، ته ډیر زیات لوی او د ستاینې وړ یې، ستا لویي دانساني درک او پوهې څخه لوړه ده.»
(زبور ۱۴۵ :۳)

قادر مطلق خدای وائې چه " زه الاول او الاخر یم، چه شته ، چه وو او چه راتلونکی دی ." (مکاشفات ۱ : ۸)

مونږ ته د ایمان په وسیله دا معلومه ده چه عالمونه د خدای په کلام جوړ شوي دي، داسې نه ده چه څه چه په نظر راځي هغه د ظاهري څیزونو نه جوړ شوی دی. (خط د عبرانیانو په نوم ۱۱: ۳)

په ازل کې، کله چه خدای آسمانونه او مځکه پیدا کړه، مځکه خالي او بې بڼه (شکل) وه، او د خدای روح د ژورو او تیارو اوبو د پاسه حرکت کاوه. خدای وفرمائیل: "روښنایې دې پیدا شي" او روښنایې پیدا شوه. (پیدایښت ۱: ۱_۳)

ته یواځینۍ خدای یې. تا آسمانونه او ستوري پیدا کړي دي، مځکه او سمندرونه او د هغو ټول موجودات تا منځ ته راوړی دي. تا هغو ټولو ته ژوند وربخښلی دی. د آسمان ټولې فرښتې تاته سجده کوي.
(نحمیا ۹: ۶)

هغه خدای چه دنیا ئې پیدا کړه او پکښې ئې هر څیز هم پیدا کړو، هم هغه د آسمان او مزکې مالک دئ او هغه د بنی آدمو د لاسه جوړ شوو ځایونو کښې نه اوسیږي. هغه د بنی آدم د څه څیز محتاج نه دی چه د بنی آدم د لاسه خدمت اخلي، بلکه هغه په خپله ټول کائینات له ژوند او ساه او نور څیزونه ورکوي. هغۀ د دنیا ټول قومونه دیو نسل نه پیدا کړل چه د ټولې دنیا په مخ اوسیږي. هغۀ د هغوی میعادونه او د استوګنې حدونه مقرر کړل. (اعمال د رسولانو ۱۷: ۲۴_۲۶)

مقدس کتاب د خدای د شته والی اعلان کوي. خدای بې مثاله او لاشریکه ذات دئ او خپل طاقت او قدرت یې د خلقت په ذریعه څرګند کړی دی. خدای د پیښوڅخه لیرې په څنډې کې قرار نه لري بلکه د کائیناتو په ټولو مسائیلو کې له نږدې نه ښکیل دی.

ایمان ...

په عیسـی مسیح، د خـــدای یواځینۍ زوی، زمونږ مالک

دهغه د مریدانو څخه یوۀ ولیکل: هر کله چه مونږ تاسو د خپل مالک د قدرت او د راتلو نه خبر کړی وئ نو مونږ په ټګئ د ځانه په جوړو کړو قصو باور نه وو کړی بلکه په خپله مو د هغه لوئی لیدلې وه، چه هغه د خدای پلار نه هغه وخت عزت او جلال وموندو کله چه هغه ته د هغه غوره جلال نه اواز راغی چه " دا زما محبوب زوی دی زه ترې راضي یم." او کله چه مونږ د هغه سره په مقدس غره باندې وو نو د آسمان نه مو دا آواز واؤریدو. (دویم خط د پطروس ۱: ۱۶_۱۸)

عیسی وفرمائیل: زه او زما پلار یو یُو... نو بیا تاسو په ما د کفر وئیلو الزام ولې لګوئ؟ تش په دې وجه چه زه د خدای مقدس کړی یم او دنیا ته یې رالیږلی یم او دا مې ووئیل چه زه د خدای زوی یم؟ که چیرې زه د خپل پلار کارونه نه کوم نو په ما ایمان مه راوړئ. خو که ئې کوم، نو که چیرې په ما ایمان نه راوړئ هم نو بیا زما په کارونو ایمان راوړئ د دې د پاره چه تاسو دا ومنئ او په دې پوهه شئ چه پلار په ما کښې دی او زه په پلار کښې یم. (یوحنا ۱۰: ۳۰، ۳۶_۳۸)

مسیح د نالیدلی خدای په عکس او د ټول مخلوق نه اوچت دئ. او دغسې مسیح د ټولو څیزونو نه اول دی، او ټول څیزونه په هغه کې قایم دي. او هغه د بدن، یعنې د جماعت (کلیساه) سر دی، هغه ئې ازل دی، او دمړو نه بیا ژوندی کیدونکو نه د ټولو نه اول پیدا شو د پاره ددې چه په ټولو خبرو کښې د هغه درجه اول وي. ځکه چه د خدای دا خوښه شوه چه د هغه ټول کاملیت دِ په مسیح کښې پاتې شي. د حکمت او معرفت ټولې خزانې په هغه کې جمع دي. ځکه هر څه چه خدای دی، هم هغه شان مسیح په خپل انساني حالت کښې په کامل طور هم هغه دی.
(خط د کولوسیانو په نوم ۱: ۱۵، ۱۷_۱۹ او ۲: ۳، ۹)

خو زمونږ خو یو خدای دی، یعنې خدای پلار، چه د چا له طرف نه ټول څیزونه دي او مونږ دهغه د پاره ژوندي یو، او یو مالک دی، یعنې عیسی مسیح د چا په وسیله چه دا ټول څیزونه پیدا شول او مونږ هم د هغه په وسیله ژوندي یو. (اول خط د کورنتیانو په نوم ۸: ۶)

د خدای قدرت د هغه په خلقت کې څرګند شویدی او خصلت یې دهغه په ژوندي کلام، عیسی مسیح کې څرګندیږي. عیسی مسیح د نه ښکاره کیدونکې خدای ښکاره څیره ده. خدای د معجزې په توګه د خپل ګران زوی یعنې د عیسی مسیح له طریقه په انساني بڼه کښې دې دنیا ته راغی. په دې وینا سره چه مسیح د

خدای زوی دی، مقدس کتاب د هغې بې سارې روحاني اړیکې باندې چه ددې دوو برابرو شخصیتونو تر منځ موجود دی ټینګار کوي، نه جسماني اړیکې.

ایمان ...

پر دې چه عیسی مسیح د پیغلې مریمې له لمنې څخه چـه د روح القدس په قدرت سره امیدواره شوې وه، پیدا شو

دعیسی مسیح د پیدایښت بیان داسې دی چه هر کله چه د هغه مور مریم یوسف ته کوژدن شوه نو د واده نه وړاندې معلومه شوه چه هغه دروح القدس نه امیدواره ده. یوسف یو نیک سړی وو، نو هغه د هغې د بدنامۍ نه د بچ کولو دپاره په پرده کښې د کوژدن د ماتولو نیت وکړو.
هغه دا نیت کړی وو چه په دې کښې د خدای یوه فرښته په خوب کښې ورته راغله او ورته ئې ووئیل چه " ای د داؤد زویه یوسفه! د مریم سره د واده کولو نه مه ویریږه ځکه چه د هغې امیدواری د روح القدس په قدرت ده. د هغې به زوی وشی او ته پرې عیسی نوم کیږده، ولې چه هغه به خپل امت د ګناهونو نه خلاصوي."
دا هر څه ځکه وشول چه خدای د نبی په معرفت څه وئیلي وو هغه پوره شي: " ګوری یوه پیغله به امیدواره شي او زوی به یې وشي او دهغه نوم به عمانوایل کیږدی " چه معنی یې ده، خدای زمونږ مل دی.
هر کله چه یوسف د خوبه بیدار شو نو د خدای د فرښتې حکم یې ومنو او مریم ئې خپل کور ته د خپلې ښځې په طور راوسته. او تر هغې

يې لاس ورنه وړو ترڅو چه يې زوی پيدا شوی نه وو، او دهغه نوم يې عيسی کيښوده. (متی ۱: ۱۸_ ۲۵)

د عيسی د زيږيدو پر وخت: هم په دغه وطن کښې څه شپونکی وو چه په ميره کښې يې د شپې د خپلو رمو څوکئ کوله، چه ناڅاپی د رب فرښته د هغوی په وړاندې ودريده او د رب نور د هغوی چارچاپيره خور شو او هغوی ويرې واخستل. خو فرښتې ووئيل چه " ويريږی مه ! ما تاسو ته يو زيری راوړی دی چه د خلقو لپاره به يوه لويه خوشحالی وی، چه نن د داؤد په ښار کښې ستاسو خلاصوونکی پيدا شوی دی چه هغه مسيح مالک دی." (لوقا ۲: ۸_ ۱۱)

مسيح د انسانانو په منځ کې په بې ساری توګه ژوند وکړ، چه هيڅوک نه هغه نه مخکې او نه هم وروسته داسې ژوند نه وو کړی. د هغه حيرانوونکې زيږدنه د مځکې پر سر د يو بې مثاله ژوندون پيل وو. همدا د تجسم واقعي معنی او مفهوم دی چه د هغه په واسطه د خدای ابدي کلام په معجزه ايزه توګه جُسه شوه او زمونږ په منځ کې يې استوګنه غوره کړه.

ایمان ...

پر دې چه عیسی مسیح د پونطوس پیلاطوس په حکم شکنجه، سولۍ او ووژل شو او بیا ښخ کړای شو

پیلاطوس (رومي والی په یهودیه کښې) اوس مشران کاهنان، مشران او ځینې خلق راوبلل، او ورته یې ووئیل، " تاسو دا سړۍ ماته د خلقو د بدراه کولو په الزام کښې راوستۍ دۍ خو لکه چه تاسو ګورئ ما په خپله ستاسو په وړاندې د هغه تحقیقات وکړل او په هغه کښې مې هغه جرم ونه موندلو چه تاسو پرې د کوم دعوی کړې ده. او نه هیرودیس (د ګلیل په ښار کښې د روم د امپراتورۍ استازی) په کښې څه وموندل ځکه چه هغهٔ هغه بیرته مونږ ته را ولیږلو. ښکاره ده چه هغه داسې څه جرم نه دۍ کړی چه د مرګ لایق وي. ځکه زه دا تجویز کوم چه د یو څو کوړو سزا ورکړم او پرې به یې ږدم." د اختر په موقعه به هغه ته دا اجازت وو چه د هغوئ په وینا یو قیدی آزاد کړي.

خو ټولو په جمع چغې کړې ، " دا سړۍ لرې کوه! مونږ ته برابا آزاد کړه! " دا سړۍ په ښار کښې د بغاوت او قتل په الزام قید کړی شوی وو.

پیلاطوس هغوی ته بیا مخاطب شو او دا ئې غوښتل چه عیسی آزاد کړي. خو هغوی چغې کړې،"دۍ په سولۍ کړه! دۍ په سولۍ کړه!"

هغه په دریم ځل بیا هغوی ته ووئیل، "ولې؟ ده څه ګناه کړې ده؟ ما هغه

د څه غټ جرم مجرم نه دی موندلی، ځکه به یې زه د کوړو په سزا آزاد کړم. "

خو هغوئ په ټینګه او په چیغو ووئیل چه "عیسی دې په سولئ کړی شي! " او د هغوی مطالبه ومنلی شوه. نو پیلاطوس دا فیصله وکړه چه د هغوی د خوښې کار د وشي. هغهٔ هغه سړی آزاد کړو چه هغوئ غوښتو، هغه سړی د بغاوت او قتل په جرم کښې قید شوی وو، او عیسی یې د هغوی مرضی ته وسپارلو.

د عیسی سره دوه بدمعاشان هم وو څوک چه سولئ کولو ته بوتلی شول. او کله چه هغوئ کپړئ نومې ځای ته ورسیدل نو هغه یې هلته په سولئ کړو او بدمعاشان هم ورسره چه یو ئې په ښي لاس او بل ئې په ګس لاس وو. عیسی ووئیل، "پلاره! دوئ معاف کړه! ځکه هغوی نه پوهیږي چه څه کوي. "هغوئ د عیسی جامې په خپلو کښې په خسنی وویشلې.

قریباً د غرمې وخت وو او په ټول ملک کښې تیاره شوه او د ماسپښین تر دریو بجو پورې وه. نمر پټ شو او د خدای د کور پړده په منځ دوه ټوټې شوه. نو بیا عیسی یوه اوچته چغه وویسته او وې وئیل، "ای پلاره ! زه خپل روح ستا په لاس کې سپارم!" او په دې وینا سره ئې ساه ورکړه. (لوقا ۲۳: ۱۳_ ۲۵، ۳۲_ ۳۴، ۴۴_ ۴۶)

کله چه ماښام شو نو د اریمیتیه یو موړ سړی چه یوسف نوم ئې وو او د عیسی مرید وو، راغی. هغه پیلاطوس ته ورغی او د عیسی لاش ئې ترې وغوښتو او پیلاطوس حکم وکړو چه ور د کړی شي. یوسف هغه لاش یوړو او په صفا مهینه لټه کښې ئې ونغښتو، او د خپل ځان د پاره

په یو ګټ کښې کنستۍ شوی نوی قبر کښې ئې کیښودو او یو لوی کانمۍ ئې دروازې ته راورغړولو اولاړو. (متی ۲۷: ۵۷_ ۶۰)

ما د ټولو نه وړومبۍ هغه اهمه خبره درورسوله کومه چه ماته رارسیدلې وه چه مسیح د کتاب مقدس په مطابق زمونږ د ګناهونو دپاره مړ شو، او ښخ شو او د کتاب مقدس په مطابق په دریمه ورځ بیا ژوندۍ پاڅیدلو. (اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۵: ۳_ ۴)

په سل هاوو کالو پخوا د هغه د مرینې پیشګویې شوې وه: دا

زمونږ دردونه وو چه هغه په خپل ځان ومنل اودا زمونږ کړاوونه وو چه هغه وزغمل. خو مونږ داسې وګڼله چه ګمئې دا دردونه او کړاوونه د هغو سزاګانو نتیجه ده چه خدای پر هغه استولي دي. دا زمونږ د ګناهونو په خاطر وو چه هغه زخمي شو او زمونږ د شرارتونو وجه وه چه هغه وهل ټکول وخوړل. هغه سزا ولیده ترڅو زمونږ بشپړه سلامتیا خوندي وساتلۍ شي. او دهغه د زخمونو څخه مونږ شفا حاصله کړه. مونږ لکه د وروکو شوو رمو په شان خپله لاره وروکه کړې وه او بې لارې شوي وو. د خدای لاره مو پریښې وه او په خپلو خپلو لارو روان شوي وو. سره ددې هم خدای هغه قصوروار وګڼه او زمونږ د ګناهونو پړه یې د هغه پر غاړه واچوله.

له هغه سره یې په ډیرې بې رحمۍ سره چلند وکړو، خو هغه داټول په چپه خوله وزغمل. هغه یې د یوه ګډورې په شان حلالولو ته یووړ. او هغه د یوه بې ژبې پسه په شان چه د وړۍ د پریکوونکې پروړاندې غلۍ

ولاړ وي، هيڅ څه ونه وئيل. هغه يې په ناروا توګه تومتي کړ او وې وژنه او خلک ونه پوهيدل چه هغه د هغوی د ګناهونو په خاطر وژل کيده. هو، هغه د خلکو پرځای سزا وليده. (اشعيا ۵۳: ۴_ ۸)

دمقدس کتاب ډير فصلونه دعيسی مسيح پر ژوند بحث کوي. خو دا يواځې دهغه مرينه، ښخيدل او بيا د قبره څخه بيرته راپورته کيدل دي چه د مسيحيت دايمان اساسی موضوع جوړوي. د عيسی د مرينې هدف چه د هغه د خپلې خوښې قربانی په وجې ترسره شو، دانسان د خلاصون لپاره وو او د هغه د ژوند ټولې پيښې همدې هدف ته د رسيدو لپاره بيان شوی وې.

ایمان ...
پردې چه عیسی مسیح د مړو عالم ته ورښکته شو (۱)

د عیسی د مرینې څخه څه موده وړاندې، ځینې د شرع عالمانو او فریسیانو ووئیل چه "استازه! مونږ غواړو چه ته مونږ ته د نخښې په ډول معجزه وښایې."
هغه ورته ځواب ورکړو، "دا یوه بدکاره او زناکاره پیړئ ده چه نخښې غواړي او دوی ته چه یوه نخښه ورکیدی شي د یونس نبی ده. ځکه چه یونس د ماهی په خیټه کښې درې ورځې او درې شپې تیرې کړې وې او دغه شان به ابن آدم درې ورځې او درې شپې په په مزکه کښې د ننه تیرې کړي." (متی ۱۲: ۳۸_ ۴۰)

پطروس رسول وفرمائیل: ای اسرائیلو! دا خبرې واورئ! چه عیسی ناصری یو سړی وو چه خدای په معجزو، په عجیبه کارونو او نخښو ښکاره کړو، څه چه خدای د هغه په وسیله ستاسو په وړاندې وکړل او تاسو پرې ښه خبر یئ چه خدای هغه غوره کړی وو. او کله چه خدای د خپلې منشا او د علم په مطابق هغه ستاسو په لاس کښې درکړو نو تاسو هغه د بې شرعې خلقو په وسیله په سولئ وخیژولو او مړ مو کړو. خو

---

(۱) د رسولانو د عقیدو په ځینې ژباړونو کښې دا موضوع نه په سترګو کیږي.

خدای هغه بیا راژوندی کړو او د مرګ د تکلیفونو نه ئې خلاص کړو ځکه چه دا ناممکنه وه چه هغه دمرګ په قبضه کې پاتې شوی وی. لکه چه داؤد دهغه په هکله وائي چه:

" مالک همیشه ما سره وو
ځکه چه هغه زما ښی لاس ته موجود دی
ددې د پاره چه زه وارخطا نه شم .
د دې د پاره زما زړه خوشحاله دی
او زما په ژبه زماد خوشحالئ بیان دی،
بلکه زما بدن به هم په امید کښې اوسی،
ځکه چه ته به زما روح عالم ارواح ته پرې نه ږدې
او نه به ته خپل وفادار خادم خاوره کیدو ته پریږدې.
تا ماته د ژوند لارې ښودلی دی
او ته به په خپله موجودګئ ما په خوشحالی معمور کړې."

(اعمال د رسولانو ۲: ۲۲_ ۲۸)

مسیح ستاسو د ګناهونو د خاطره یوځل د همیشه د پاره مړ شو، یعنې صادق د ګناه ګارانو د پاره، ددې د پاره چه مونږ خدای ته ورسوی. هغه په جسمانی طور مړ کړی شو خو په روحاني طور ژوندی کړی شو. په دې شان هغه لاړو او هغه قیدی روخونو ته ئې پیغام ورکړو.
(اول خط د پطروس ۳: ۱۸_ ۱۹)

عیسی د خپلې مرینې څخه ورسته، د خپل بیرته ژوندی کیدو او قیام د انتظاره پروخت د نورو مړوشوو روحونو د کتنې لپاره لاړو.

ایمان ...

پر دې چه عیسی مسیح په دریمه ورځ بیرته پورته کړې شو

په بله ورځ چه د سبت ورځ وه مشران کاهنان او نور فریسیان په جمع پیلاطوس ته راغلل، او وئې وئیل چه " صاحبه! مونږ ته په یاد دي چه هغه فریبی چه لاژوندی وو نو ئې وئیلی وو چه زه به په دریمه ورځ پورته کړې شم. آیا ته به دا حکم وکړې چه تر دریو ورځو دِ د دغه قبر څوکی کیږي؟ هسې نه چه د هغه مریدان راشي، لاش ئې په غلا وباسی او بیا خلقو ته وائی چه هغه پورته کړې شوی دی، او آخری فریب به ئې د وړومبی فریب نه ډیر بد وی." پیلاطوس ورته ووئیل چه "ستاسو خپل څوکیداران شته، ځئ، څنګه مو چه خوښه وي نو هغه شان څوکئ ئې کوئ." نو هغوئ لاړل، قبر ئې په قبضه کښې کړو او په کاڼو ئې مهرونه ولګول او څوکیداران ئې پرې مقرر کړل. (متی ۲۷: ۶۲_ ۶۶)

د سبت ورځ تیره شوه او د اتوار د ورځې سحر کیدونکی وو چه مریم مګدلینی او هغه بله مریم د قبر لیدو ته راغلې. ناڅاپه یوه سخته زلزله راغله، د آسمان نه د رب یوه فرښته راکوزه شوه، کاڼی له راغله او هغه ئې ورغړولو او په خپله پرې کیناسته. دهغهٔ مخ د آسمان د بریښنا په شان ځلیدو او جامې ئې لکه د واورې سپینې وې. څوکیداران ئې په لیدو د ویرې نه ورپیدل اؤ لکه د مړو پریوتل.

فرښتې بیا ښځو ته ووئیل چه " تاسو د هیڅ نه مه ویریږئ، ماته پته ده چه تاسو عیسی ګورئ څوک چه په سولئ شوی وو. راشئ، هغه ځای وګورئ چرته چه هغه پروت وو. نو بیا زر لاړ شئ او د هغه مریدان خبر کړئ چه هغه د مړو نه پاڅولی شوی دی او ستاسو نه وړومبی ګلیل ته روان دی، تاسو به ئې هلته ووینئ، ما تاسوته دغسې وئیلی دی."
هغوئ د مقبرې نه په هیبت او خوشحالئ لاړې او دؤ ئې کړل چه مریدان خبر کړی.
ناڅاپی عیسی په لاره پرې پیښ شو او په هغوئ ئې سلام واچولو. هغوئ ورغلې او د هغه پښې ئې ونیولې او سجده ئې ورته وکړه.
(متی ۲۸: ۱_ ۹)

عیسی هغوی ته ووئیل چه "دا زما هغه کلام دی چه کله زه ستاسو سره وم نو درته به مې وئیل چه د موسی په شریعت کښې د نبیانو په صحیفو کښې او په زبور کښې هر څه چه زما په هکله لیکلی شوی دی، هغه به ضرور پوره کیږی."
بیا هغه د هغوی عقل روښانه کړو چه په صحیفو پوهه شي. هغه ووئیل چه "دا لیکلی شوی دی چه مسیح به زحمت وزغمي او په دریمه ورځ به د مړو نه بیا ژوندی پاڅی. او د هغه په نامه به ټولو قومونو ته د ګناهونو نه د توبې او معافئ وعظ کولی شی. تاسو د بیت المقدس نه شروع شئ. (لوقا ۲۴: ۴۴_ ۴۷)

دا زیری خدای د مخکښې نه په مقدسو صحیفو کښې د خپلو نبیانو په وسیله لوظ کړی دی د هغه د زوی، زمونږ د مالک عیسی مسیح په

حقله، چه په انسانی طور د داؤد په نسل کښې پیدا شو، خو د قدوسیت د روح په مطابق له مړو نه د بیا ژوندی کیدو په وسیله هغه په قدرت سره د خدای زوی اظهار شو، یعنې زمونږ مالک عیسی مسیح.
(رومیان ۱: ۲_ ۴)

نو اوس که هم دغه څه مونږ زیری آؤروو چه مسیح له مړو نه بیا راژوندی شو نو په تاسو کښې ځینې دا څنګه وئیلی شی چه د مړو قیامت نشته ؟ که د مړو نه قیامت نشته نو بیا خو مسیح هم نه وو بیا ژوندی شوی. او که مسیح نه وو ژوندی شوی نو بیا زمونږ پیغام بې فائدې او بې معنی دی او همدغه شان ستاسو ایمان راوړل. که چرې مونږ صرف د دې ژوند د پاره په مسیح امید کړی دی نو بیا مونږ په ټولو بنی آدمو کښې زیات بدنصیب یو. خو په حقیقت کښې مسیح راژوندی شوی وو. داسې هغه په مړو کښې اولنی ژوندی شوی سړی دی. (اول کورنتیان ۱۵: ۱۲_ ۱۴ ، ۱۹_ ۲۰)

مسیحیت ددې حقیقت پر بنسټ ولاړ دی چه عیسی مړ شو خو اوس هغه ژوندی دی، نه دا چه هغه ژوندی ؤ او اوس مړ شوی دی. دمسیح مرګاو دهغه بیا راژوندی کیدل د مسیحیانو دایمان اساسی ټکی جوړوي.

ایمان ...

پر دې چه عیسی مسیح آسمان ته پاس اوچت کړای شو او د پلار خدای ښي لاس ته ناست دی

عیسی مسیح د خپل بیا ژوندي کیدو څخه وروسته مریمې ته وفرمائیل: "ماته لاس مه راؤړه ځکه چه زه لا پلار ته نه یم تلی. خو زما ورونو له لاړه شه او هغوی ته ووایه چه زه اوس خپل پلار ته او ستاسو پلار ته، خپل خدای ته او ستاسو خدای ته پاس ځم." (یوحنا ۲۰: ۱۷)

یوځل بیا عیسی مسیح خپل بیا ژوندی کیدو څخه پس خپلو مریدانو ته داسې ووئیل: "او دا ګورئ، زه تاسو ته دخپل پلار کړی لوظ دراستوم، دلته په دې ښار کښې تر هغې پاتې شئ تر څو چه په تاسو آسمانی قوت نازل شی." بیا عیسی هغوئ بهر د بیت عنیاه پورې بوتلل او لاسونه ئې اوچت کړل او هغوئ له ئې برکت ورکړو. او داسې وشو چه په برکت ورکولو هغه د هغوئ نه جدا شو او آسمان ته پورته کړی شو. (لوقا ۲۴: ۴۹_ ۵۱)

په تیره زمانه کښې خدای زمونږ د پلارانو نیکونو سره ډیر ځله په مختلفو طریقو سره د نبیانو په معرفت خبرې وکړلې. خو په دې آخره زمانه کښې ئې مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړو چه هغه ئې د ټولو څیزونو وارث وګرزولو او د هغه په وسیله ئې هم ټول کائنات پیدا کړل. چه هغه د خدای د جلال مظهر او د هغه د ذات عکس دی او ټول څیزونه د خپل قدرت په کلام سمبالوی. هغه ګناهونه پاک کړل او په آسمان کښې د قادر مطلق خدای په ښی لاس کښیناستو.

ځکه چه مسیح ... په آسمان کښې داخل شو چه اوس د خدای په مخکښې زمونږ د خاطره حاضر وی.

خو مسیح د همیشه د پاره د ګناهونو د لرې کولو د پاره په یوې قربانئ پیش کولو د خدای ښی لاس ته کښیناستو. او له هغه وخت نه په دې انتظار دی چه د هغه دښمنان د هغه د پښو د لاندې کړی شی.

(عبرانیان ۱: ۱_ ۳ ; ۹: ۲۴ ; ۱۰: ۱۲_ ۱۳)

او د ایمان بانی او کاملوونکی عیسی ته وګورو چه د هغې خوشحالئ په ځای چه د هغه د نظر د وړاندې وه، د شرمندګئ پروا ئې ونه کړه خو د سولئ تکلیف ئې وزغملو او د خدای د تخت په ښی لاس کښیناستو.

(عبرانیان ۱۲: ۲)

عیسی مسیح آسمان ته په پورته کیدوسره هغه ځای ته لاړو چه ورځخه راغلی ؤ. عیسی مسیح هلته د پلار خدای پر وړاندې د مسیحیانو استازیتوب او د هغوی شفاعت کوي. «د خدای په ښی لاس کښې کښیناستل» هغه تصویر او نښه ده چه د عیسی مسیح درناوی او دهغه عزت او جلال ښکاره کوي چه د هغې بې مثاله اړیکې په وجه چه له خدای سره ئې لري هغه ئې تر لاسه کړی دی.

ایمان ...

پردې چـه مسیح به بیرته راستون شي تر څو د مړو او ژوندو عدالت وکړي

او څنګه چه هغه روان وو او هغوئ آسمان پلو ځیر کتل نو سمدستی دوه سړی په سپینو جامو کښې د هغوی په خوا کښې ودریدل. او وې وئیل چه " ای ګلیلیانو ! تاسو دلته څه له آسمان پلو ځیر ګورئ؟ دغه عیسی څوک چه ستاسو نه آسمان ته بوتلی شو، هغه په دغه لار به بیا راځي په کومه چه تاسو د تلو په وخت ولیدو.
(اعمال د رسولانو ۱: ۱۰_ ۱۱)

لکه څنګه چه بریښنا د نمر خاته نه نمر پریواته ته خوریږی دغه شان به د ابن آدم راتلل وی. خو هغه ورځ او هغه ګړئ هیچا ته معلومه نه ده، نه خو دآسمان فرښتې پرې خبر دي او نه زوی، خو پلار پرې خبر دی.
(متی ۲۴: ۲۷، ۳۶)

هر کله چه ابن آدم په پوره شان سره راشی او ټولې فرښتې ورسره وی، هغه به د خپل لوئ په تخت کښینی. او ټول قومونه به ورورړاندې راټول کړی شی هغه به بنی آدم په دوؤ ډلو کښې جدا کړی لکه څنګه چه شپونکی ګډې د بزو نه جدا کوی. او هغه به ګډې خپل ښی لاس ته او بزې خپل ګس لاس ته کړی. بیا به بادشاه د ښی لاس خلقو ته ووائی چه

" راځئ زما د پلار مبارکو خلقو! د بادشاهئ وارثان شئ چه د دنیا د پیدایښت راسې تاسو ته جوړه شوې وه په هغې کښې داخل شئ." بیا به هغه هغو ته ووائی، څوک چه به د هغه ګس لاس ته وی، "ای لعنتیانو! زما سترګو نه پناه شئ او هغه تل عمری اور ته لاړ شئ چه شیطان او د هغه د فرښتو د پاره تیار شوی دی." او هغوی به تل عمری عذاب ته لاړ شی، خو صادقان به د تل ژوندون بیا مومی.
(متی ۲۵: ۳۱_ ۳۴، ۴۱، ۴۶)

ستاسو غمژن زړونه دِ ګبراؤ نه شی، په خدای یقین لرئ، هم په ما یقین لرئ. زما د پلار په کور کښې د اوسیدو ډیر ځایونه دی. که چرې داسې نه وی نو بیا به ما تاسو ته وئیلی وو. ځکه زه ځم چه ستاسو د پاره هلته ځای تیار کړم. او که هلته زه لاړشم او تاسو ته ځای تیار کړم نو په خپله به بیا راشم او تاسو به د ځان سره بوزم، ځکه چه چرته چه زه یم هلته به تاسو هم یئ. (یوحنا ۱۴: ۱_ ۳)

خو د مالک ورځ به د غل په شان راځی، په هغه ورځ به آسمانونه ډیر په ګړز ګړوز د نظر نه پناه شی، یعنې ستوری سیارې به د اور په سخت تاؤ سره ویلی شی، او مزکه او په هغې د بنی آدمو ټول کارونه به ختم شی. هر کله چه ټول څیزونه هم دغه شان ویلی کیدونکی دی نو بیا تاسو ته په پاک چال چلن اؤ دینداری کښې څنګه کیدل په کار دی! او تاسو د خدای د هغې ورځې د راتلو انتظار کوئ او ښه خواری کوئ چه هغه زر راشی چه په کومې کښې به آسمانونه د اور نه وسوزی اؤ برباد به شی، او ستوری او سیارې به له تاؤ نه ویلی شی. خو د هغه د لوظ په مطابق

مونږ د نوو آسمانونو او نوې مزکې انتظار کوو چه په کښې به صداقت اوسيږی. (دويم خط د پطروس ۳: ۱۰_ ۱۳)

عيسی مسيح مځکې ته د خپل بيا راتګ په اړوند په کراتو مراتو خبرې کړي دي. خو دهغه دوهم ځل راتګ به د هغه د لومړني راتګه څخه ډير توپير ولري. په لومړي ځل کله چه مسيح راغی هغه په ډيرې ناتوانۍ او عاجزۍ سره ښکاره شو ترڅو خپل ژوند قربان کړي. خو په دوهم ځل به هغه په قدرت او اختيار سره دټول بشريت د قضاوت کوونکي او د هغو کسانو خلاصون ورکوونکي په توګه راستون شي چه په هغه ايمان لري. مسيحيان د عيسی بيرته راتګ ته سترګې په لاره دي. خو همداراز هغوی دغه پيښه د دې عامل ګڼي ترڅو د مسيح د بيا راتګ لپاره دښه چمتووالی په خاطر د همدا اوسه څخه خپل ژوند د هغه د احکامو او هيلو په مطابق سمبال کړي.

ایمان ...
په روح القدس باندې

عیسی ووئیل: "او زه به پلار ته خواست وکړم چه تاسو ته بل مدد ګار درکړی څوک چه به تاسو سره مدام وی، او هغه به د حق روح وی، دنیا هغه نشی قبلولی ځکه چه دنیا نه خو هغه وینی او نه ئې پیژنی خو تاسو ئې پیژنئ ځکه چه هغه تاسو سره اوسی او په تاسو کښې وی."
(یوحنا ۱۴: ۱۶_ ۱۸)

خو بیا هم زه تاسو ته ریښتیا وایم چه دا ستاسو بهترئ د پاره ده چه زه ستاسو نه جدا کیږم. که چرې زه ستاسو نه لاړ نه شم نو مددګار به رانه شی او که چیرې زه لاړ شم نو هغه به زه تاسو ته راواستوم. کله چه هغه راشی نو هغه به دنیا د ګناه اود صداقت او انصاف په باب کښې ملامته کړی، د ګناه په باب کښې ځکه چه په ما ایمان نه راوړی، او د صداقت په باب کښې ځکه چه زه پلار له ځم او تاسو به مې بیا ونۀ وینئ، او د انصاف په باب کښې ځکه چه د دې دنیا سردار مجرم کړی شو.
نورې هم ډیرې خبرې دی چه تاسو ته مې کړی وی خو دا به اوس تاسو برداشت کولی نۀ شئ. خو کله چه د حقیقت روح راشی نو هغه تاسو ته دا ټول حقیقت وښیی ځکه چه هغه به د خپله ځانه هیڅ نه وائی، خو هغه څه به وائی کوم چه هغه آوری او هغه به تاسو په راتلونکی واقعاتو خبر کړی. هغه به زما جلال ښکاره کوی ځکه چه له ما نه به ئې آخلی اؤ تاسو

به پرې خبر کړی. هر څه چه د پلار دی هغه زما دی اؤ دغه وجه ده چه ما ووئیل چه له مانه به ئې آخلی او تاسو به پرې خبروی.
(یوحنا ۱۶: ۷_ ۱۵)

"خو تاسو ته به د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شی او تاسو به په بیت المقدس کښې او په ټوله یهودیه او سامریه کښې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یئ." کله چه هغه دا ووئیل او هغوئ لا ورته کتل چه هغه پورته کړی شو او یوه وریځ راغله او هغه ئې د هغوئ د سترګو نه پناه کړو. (اعمال د رسولانو ۱: ۸_ ۹)

خو د خدای د روح میوه مینه، خوشحالی، سلامتی، زغم، مهربانی، نیکی، ایمانداری، عاجزی او پرهیزګاری ده. د داسې کارونو یو شریعت هم مخالف نه دی.که چیرې مونږ د خدای د روح په وسیله ژوندی یو نو د خدای د روح په مطابق ژوند تیرول هم په کار دی.
(خط د ګلتیانو په نوم ۵: ۲۲_ ۲۳، ۲۵)

او د خدای پاک روح خپه کوئ مه، د کوم نه چه په تاسو د خلاصون د ورځ د پاره مهر لګولی شوی دی. د هر قسم تریخوالی، قهر، غضب، شور زوږ، بد خواهش او بد خویونه د له تاسو نه لرې وی. او هر یو په بل مهربانه اوسئ او یو تر بله نرمی کوئ. او لکه چه خدای په مسیح کښې ستاسو ګناهونه معاف کړل، تاسو هم یوبل معاف کوئ.
(اِفسیان ۴: ۳۰_ ۳۲)

روح القدس کومه فرښته نه ده بلکه په خپله د خدای روح دی۔ روح القدس د روحانی ژوند زیری ورکوي چه خلک کولی شي دهغه په واسطه مسیحی شي. دا روح دانسان په بدن کښې استوګن کیږي او په خپل قدرت سره د هغوی مرسته کوي ترڅو د عیسی مسیح په لاره روان شي.

ایمان ...

په نړیواله سپیڅلې کلیساه باندې

او هر څه یې د هغه (مسیح) تر پښو لاندې کړل او هغه ئې د ټولو څیزونو سردار جوړ کړو، او جماعت (کلیساه)له ئې ورکړو چه هغه د جماعت مالک شی. جماعت د مسیح بدن دی، دا بدن د هغه نه کامل کیږی چه هغه له ټولو نه په هرڅه کښې کامل وی. (اِفسیان ۱: ۲۲_ ۲۳)

ځکه چه تاسو ټول د هغه ایمان په وسیله کوم چه په مسیح عیسی دی، د خدای زامن یئ. او تاسو ټول هر څومره چه د مسیح په یووالی کښې بپتسمه شوی یئ، لکه د لباس مسیح مو آغوستی دی. نه خو څوک په تاسو کښې اوس یهودی دی او نه غیر یهودی، نه څوک غلام دی او نه آزاد، نه څوک سړی دی او نه ښځه، ځکه چه تاسو ټول د مسیح عیسی په یووالی کښې یو یئ. (خط د ګلتیانو په نوم ۳: ۲۲_ ۲۸)

ځکه چه د هغه په وسیله مونږ دواړه د یو روح په وسیله د پلار په حضور کښې حاضریږو. نو اوس بیا تاسو پردی او مسافران پاتې نه شوئ بلکه د پاکانو د وطن او د خدای د کورنئ شوئ. او د رسولانو او نبیانو په بنیاد تاسو ودان کړی شوی یئ چه د ګوټ سرکانی په خپله مسیح عیسی دی. مسیح په خپله د هغې مانئ هره یوه حصه یو ځای ساتی چه په رب کښې یو پاک کور جوړ شی. نو تاسو هم د هغه په یووالی کښې د

ورو سره د خدای یو داسې کور یز په کوم کښې خدای د خپل روح په وسیله اوسیږی. (خط د اِفسیانو په نوم ۲: ۱۸_ ۲۲)

ځکه چه مونږ ټول که یهودان یو که یونانیان، که غلام یو که آزاد، مونږ ټول په یوه ورځ بپتسمه شو چه د یو بدن په یووالی کښې داخل شو، او خدای زمونږ ټولو په زړونو کښې یو روح واچولو. دغه شان د بدن یو اندام نه دی بلکه ډیر دی. هم دغه شان تاسو ټول په یوځای د مسیح بدن یئ او بیل بیل اندامونه یئ.
(اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۲: ۱۳_ ۱۴، ۲۷)

د مسیحیانو ډلې د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې د سیمه ایزو کلیساګانو په توګه خپل عبادت او پرستش پر مخ بیایي. دغه ډلې په عین حال کښې یوه واحده نړیواله کلیساه د عامې کلیساه په شمول جوړوي چه ټول ایمانداران په هر ځای کښې چه دي پکښې شامل دي.

ایمان ...

د سپیڅلو (مقدسینو) په مشارکت باندې

لومړني مسیحیانو په هکله راغلي دي چه: هغوئ به د رسولانو تعلیم اوریدو ته، د شریک ژوندون، په یو ځای د ډوډئ ماتولو او د دعا دپاره راغونډیدل. په هر چا ویره وه او د رسولانو ډیر عجیبه کارونه او نخښې څرګندې شولې. او ټولو ایماندارانو په یوه رائې ژوند تیرولو او په هر څه کښې شریک وو. او هغوئ خپل مال، اسباب خرڅولو او هر چا ته ئې د حاجت په مطابق پیسې ویشلې. هغوئ به هره ورځ په یو زړه د خدای په کور کښې راجمع کیدل او په کورونو کښې به ئې په شریکه ډوډی ماتوله او خپل خوراک به ئې په خوشحالئ او په صفا زړه سره شریکولو. هغوئ د خدای ثنا وئیله، نو ټول خلک ترې راضی وو او هره ورځ څومره خلقو چه خلاصون موندلو نو مالک هغوئ په ډله کښې شاملول. (اعمال د رسولانو ۲: ۴۲_ ۴۷)

هغه د برکت پیاله کومه چه مونږ څښو او د هغې د پاره د خدای شکر کوو، آیا هغه د مسیح د وینې د شراکت نه ده څۀ؟ او هغه ډوډئ چه مونږ ئې ماتوو، آیا هغه د مسیح د بدن شراکت نه دی څۀ؟ مونږ ډیر خو یو، بیا هم لکه څنګه چه یوه ډوډئ ده، هم دغه شان لکه د یو بدن جوړیږو ځکه چه مونږ ټول په هغې یوې ډوډئ کښې شریکیږو.
(اول خط دکورنتیانو په نوم ۱۰: ۱۶_ ۱۷)

دا هغه پیغام دی، چه مونږ د مسیح نه واؤریدلو او تاسو پرې خبروو چه خدای نور دی، او په هغه کښې هیڅ تیاره نشته. که چرې مونږ په خولې دا ووایو چه هغه سره شراکت لرو خو په تیارو کښې ګرځو نو بیا مونږ دروغژن یو او په حق عمل نه کوو. خو که مونږ په نور کښې ګرځو لکه څنګه چه هغه په خپله په نور کښې دی، نو بیا مونږ په خپلو کښې شراکت لرو، او د هغه د زوی عیسی وینه مونږ د هر یو ګناه نه پاکوی.
(اول خط د یوحنا ۱: ۵_ ۷)

تاسو د یوبل خیال ساتئ او دغه شان د مسیح شریعت پوره کوئ. نو بیا چه څومره موقع په لاس درځی، د ټولو سره نیکی کوئ، خاص د ایماندارانو سره. (خط د ګلتیانو په نوم ۶: ۲، ۱۰)

مقدس کتاب ټول هغه کسان چه په خدای پورې تعلق لري د «مقدسینو یا سپیڅلو» په نامه یادوي. مسیحیان پوهیږي چه هغوی د یوې لویې کورنۍ غړی دي او له یو بل سره ځانګړی اړیکې لري.

ایمان ...
د ګناهونو په بخښنې باندې

په سولئ کیدو نه څه موده وړاندې، عیسی مسیح خپل وروستنۍ ماښام ډوډۍ له خپلو مریدانو سره یوځای وخوړه:

د خوراک په دوران کښې عیسی ډوډئ واخیسته او په شکر ئې ماته کړه اؤ مریدانو ته ئې ورکړه اؤ وئې وئیل چه "دا واخلئ او وئې خورئ، دا زما وجود دی." بیا ئې کنډول راواخستو، د خدای شکر ئې پرې وویستو او په دې وینا سره یې هغوئ ته ورکړو چه "د دې نه ټول وڅښئ. ځکه چه دا زما وینه ده چه د خدای وعده قائموی اؤ د ډیرو خلقو د ګناهونو د معافئ د پاره توئیږی." (متی ۲۶: ۲۶_ ۲۸)

او د هغه مینه مونږ ته په دې شان ښکاره شوه چه هغه دې دنیا ته خپل یکی یو زوی د دې د پاره راولیږلو چه مونږ د هغه په وسیله ژوندون ولرو. مینه په دې کښې نه ده چه مونږ له خدای سره مینه وکړله بلکه په دې کښې ده چه هغه زمونږ سره مینه وکړله، اؤ زمونږ د ګناهونو د کفارې د پاره ئې خپل زوی راولیږلو. (اول خط د یوحنا ۴: ۹_ ۱۰)

ځکه چه په کوم وخت چه مونږ لا بې وسه وو نو مسیح د بې دینو د پاره مړ شو. د یو صادق د پاره به په مشکله څوک مړ شي. کیدی شی چه د یو ښه سړی د پاره څوک ځان مرګ ته حواله کړی. خو خدای خپله مینه

مونږ ته داسې ښکاره کړه، کله چه مونږ لا ګناه ګار وو نو مسیح زمونږ د پاره مړ شو! اوس چه مونږ د مسیح د مرګ په وسیله صادق کړې شوو نو بې شکه چه مونږ به د هغه په وسیله د خدای د غضب نه هم بچ شو. ځکه چه سره ددې چه مونږ د خدای دښمنان وو نو مونږ د هغه د زوی د مرګ په وسیله ورسره پخلا شوو او ددې نه زیات د هغه د زوی د ژوند په وسیله بچ شو! (خط د رومیانو په نوم ۵: ۶_ ۱۰)

که مونږ د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دی، او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی او د هر قسم بدو نه به مو پاک کړی ... زما بچو! د دغو خبرو د لیکلو نه زما مطلب دا دی چه تاسو ګناه مه کوئ، خو که چیرې څوک ګناه وکړی نو د پلار سره زمونږ یو شفاعت کوونکی دی، یعنې عیسی مسیح چه صادق دی، هغه په خپله زمونږ د ګناهونو کفاره دی، نه یواځې زمونږ د ګناهونو بلکه د ټولې دنیا د ګناهونو هم. (اول خط دیوحنا ۱: ۹، ۲: ۱_ ۲)

بخښنه د مسیحیت زړهٔ او مرکزي ټکی دی. ګناه هر هغه عمل، سوچ او یاخیال ته وئیل کیږي چه دخدای د احکامو او اصولو په اجرا کښې ځنډ او کمی منځ ته راوړي. مقدس کتاب مونږ ته دا تعلیم راکوي چه ټول انسانان عفوې او بخښنې ته سخته اړتیا لري. ځکه هغوی ټولو نه په دوامداره توګه ګناه او خطا تر سره کیږي. عفو او بخښنه یواځې د خدای د ځوی، عیسی مسیح، په وسیله تر لاسه کیدای شي ځکه هغه په خپلې سولئ کیدو سره زمونږ د ګناهونو کفاره ورکړې ده.

ایمان ...

د مـړو په راپـورته کیدو یا بـیا ژوندي کیدو باندې

عیسی وفرمائیل: "دا د هغه رضا ده چه هغه ماته هرڅه راکړی دی د هغې نه یو هم ورک نه کړم خو هغه ټول په آخری ورځ را پورته کړم. ځکه چه دا زما د پلار مرضی ده چه هر هغه څوک چه زوی ووینی اؤ په هغه ایمان راوړی، هغه دې د تل ژوندون خاوند شی، او زه به ئې په آخری ورځ بیا پاڅوم. ځکه چه ماته یو داسې سړی نه شی راتلی کوم چه پلار چه زه ئې رالیږلی یم ماته رانه کاږي، او زه به هغه په آخری ورځ را پورته کړم." (یوحنا ۶: ۳۹_ ۴۰، ۴۴)

په دې حیرانیږئ مه ځکه چه یو داسې وخت راتلونکی دی چه هغه ټول څوک چه په قبرونو کښې دی به د دۀ آواز آؤری. او چا چه نیکی کړی وی هغوئ به د تل ژوندون د پاره اؤ چا چه بد کړی وی هغوئ به د سزا د پاره راپورته کړی شی. (یوحنا ۵: ۲۸_ ۲۹)

خو هر یو به په خپل خپل وار، اول مسیح، بیا د مسیح په راتلو د هغه خلق. د مړو راژوندی کیدل هم دغسې دی، د فنا په حالت کښې ښخولی شی او د بقا په حالت کښې را ژوندی کیږی. د بې عزتئ په حالت کښې ښخولی شی اؤ د جلال په حالت کښې راژوندی کیږی، په

کمزورتیا کښې ښخولې شي او په طاقت کښې راژوندۍ شي جسمانی وجود ښخولې شي او روحانی وجود راژوندۍ کیږي. هر کله چه نفسانی وجود شته نو روحانی وجود هم شته.

زما ورونو، زما مطلب دا دی چه د انسان جسم د خدای د بادشاهۍ وارث نه شی‌کیدی او دا جسم چه مړ کیدونکی دی د بقا وارث کیدی نه شی.

گورئ! زه به درته یوه د راز خبره کوم چه مونږ ټول خو به نه مرو بلکه مونږ ټول به بدل شو، د سترگې په یو رپ کښې چه وروستۍ بگل وغږیږی او د بگل په آواز سره به مړی په غیر فانی حالت کښې راژوندی شی، او مونږ به بدل شو. ځکه چه ضروری دی‌چه دا مړ کیدونکی جسم د غیر فانی جامې واغوندی او دا مړ کیدونکی جسم د ابدی ژوندون جامې واچوی. او هر کله چه دا فانی جسم غیرفانی، او مړ کیدونکی جسم ابدی جامې واچوی، نو هغه قول به پوره شی چه لیکلی شوی دی چه: " مرگ ختم کړی شو، فتح وکړی شوه! "

(اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۵: ۲۳، ۴۲_ ۴۴، ۵۰_ ۵۴)

خو مونږ د آسمان اوسیدونکی یو او د آسمان نه زمونږ د خلاصونکی مالک عیسی مسیح په ډیر انتظار کښې یو، چه راشی. هغه به د خپل هغه قوت په وسیله په کوم چه هغه ټول څیزونه خپل تابع کولی شی، زمونږ د بدن فانی شکل به بدل کړی او د خپل جلال د صورت په شان به ئې جوړ کړی. (خط د فیلیپیانو په نوم ۳: ۲۰_ ۲۱)

د مرګ څخه بیرته ژوندی کیدل دمسیحیانو لپاره یو منل شوی حقیقت دی. ځکه عیسی مسیح لا پخوا د مړوڅخه بیرته راپورته شوی دی. زمونږ نوی بدن به د دې اوسني جسم په شان ناقص نه وي. بلکه د مسیح د راپورته شوي بدن په شان به کامل وي، خو ددې سره سره به مونږ د یوبل شناخت او فرق وشوکړی.

ایمان ...

په تل پاتی ژوندون باندې

عیسی ووئیل، " زه قیامت یم او زه ژوندون یم. که څوک په ما ایمان لری که هغه مړ هم شی نو هغه به بیا ژوندی وی. او که څوک چه ژوندی دی او په ما ایمان لری هغه به هیڅکله هم مړ نه شی. آیا ستا په دې ایمان دی څه؟" (یوحنا ۱۱: **۲۵**)

ځکه چه د ګناه بدل مرګ دی، خو د خدای بخښنه زمونږ په مالک عیسی مسیح کښې د تل ژوندون دی. (رومیان ۶: ۲۳)

لکه څنګه چه موسی په بیابان کښې مار په لوړه خیژولی وو دغسې به ابن آدم هم و خیژولی شی، د پاره د دې چه هر څوک چه په هغه ایمان راوړی نو هغه به هم په هغه کښې دتل ژوند ومومی. خدای د دې دنیا سره داسې مینه وکړله چه خپل یکی یو زوی ئې هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوی ئې ایمان راوړی هغه هلاک نه شی خد دتل عمری ژوندون بیا مومی. (یوحنا ۳: ۱۴_ ۱۶)

ځکه چه یو خدای دی، او د خدای او د انسان په منځ کښې مینځګړی هم یو، یعنې مسیح عیسی چه انسان دی. (اول تیموتیوس ۲: **۵**)

... خدای مونږ له دتل ژوندون راکړی دی، او دا ژوندون د هغه په زوی کښې دی. څوک چه د خدای زوی لری هغه ژوندون هم لری، او څوک چه

د خدای زوی نه لری هغه ژوندون هم نه لری. دا خط تاسو ته دا یقین درکوی چه تاسو د تل ژوندون لرئ ځکه چه تاسو د خدای د زوی په نامه ایمان راوړئ. (اول خط د یوحنا ۵: ۱۱_ ۱۳)

عیسی مسیح فرمائیلی دي: " ... زه دې له راغلی یم چه خلق ژوندون ومومی او ډیر یې ومومی." (یوحنا ۱۰: ۱۰)

زمونږ د مالک عیسی مسیح او د خدای پلار د ثنا وی، چه د عیسی مسیح د مړو نه د بیا ژوندی کولو په سبب ئې په خپل لوی رحمت سره مونږ د ژوندی امید د پاره بیا پیدا کړو، چه یو نه فنا کیدونکی، بې داغه او لاژواله میراث حاصل کړو چه هغه ستاسو د پاره په آسمان کښې ساتلی شوی دی. خدای تاسو د ایمان په وسیله په خپل قدرت سره محفوظ ساتی د هغه خلاصون د پاره چه په آخری وخت کښې ښکاره کیدو ته تیار دی. (اول خط د پطروس ۱: ۳_ ۵)

بیا ما یو نوی آسمان او یوه نوې مزکه ولیده ځکه چه وړومبنی آسمان او وړومبنئ مزکه غائب شوی وو او سمندر هم نه وو. ما له تخت نه یو اوچت آواز واوریدو چه دا ئې وئیل چه " ګورئ! اوس خدای د بنی آدمو په منځ کښې استوګنه کوی، هغه به د هغوئ سره اوسیږي او هغوئ به د هغه امت وی او خدای په خپله د هغوئ سره وی. هغه د هغوئ د سترګو ټولې اوښکې وچې کړی، هلته به نه مرګ، نه ویر، نه ژړا او نه درد وی ځکه چه وړومبی څیزونه تیر شوی دی." (مکاشفات ۲۱: ۱، ۳_ ۴)

مسیحیان دمځکې پر مخ د ژوند تجربه په یوه نوي کیفیت سره ترسره کوي. هغوی مرګ‌ته دیو ښه او همیشني ژوندون پر لور د ټک دیوې دروازې په سترګه ګوري. مسیحیان به تر ابده پورې له خدای سره اوسیږي او هیڅکله به هم بیا مړه نه شي.

د رسولانو عقیده

زه په خدای، دا قادر مطلق پلار او دځمکې او آسمان په پیداکوونکې باندې ایمان لرم.
زه په عیسی مسیح، زمونږ مالک او د خدای دا یواځینی زوی باندې ایمان لرم.
هغه د روح القدس په قدرت سره د پیغلې مریمې د لمنې څخه پیدا شو.
هغه د پونطوس پیلاطوس په حکم سره شکنجه، سولۍ او ووژل شو، او بیا ښخ کړای شو.
هغه دمړو عالم ته ورښکته شو.
هغه په دریمه ورځ بیرته پورته کړای شو.
هغه آسمان ته پاس اوچت کړای شو او اوس دپلار خدای ښی لاس ته ناست دی.
هغه به بیرته راستون شي تر څو د ژوندو او مړو عدالت وکړي.
زه په روح القدس، نړیواله مقدسه کلیسا، دسپیڅلو په مشارکت، دګناهونه پربخښنې، دمړو په بیا راژوندی کیدو او تل پاتې ژوندون باندې ایمان لرم.

آمـــــــین

شخصي عقیده

د عیسویت مرکزي ټکی په خپله عیسی مسیح دی. مسیحیت داسې یوه عقیده ده چه د خدای سره دانسان د ځان ځاني (شخصی) اړیکې د ټینګیدو پر بنسټ ولاړه ده چه دمسیح له طریقه منځ ته راتلی شي.

" هغه چه د انسان په شکل کښې ظاهر شو،
او د روح په وسیله رښتونی پاتې شو،
او فرښتو هغه ولیدو،
او په قومونو کښې د هغه پیغام خور شو،
او په دنیا کښې خلقو په هغه ایمان راوړو،
او په جلال کښې پاس اوچت کړی شو.
(اول خط د تیموتیوس په نوم ۳: ۱۶)

هغه اګرکه د خدای په صورت وو د خدای سره برابریدل ئې په قبضه کښې د ساتلو څیز ونه ګڼلو. بلکه خپل ځان ئې د هغه ټولو اختیارونو نه خالی کړو او غلام شکل ئې اختیار کړو، او د انسان په شان شو. او په انسانی جسه کښې ښکاره شو، خپل ځان ئې عاجز کړو او دومره تابعدار شو چه مرګ، بلکه د سولئ مرګ ئې وزغملو. په دغه وجه خو خدای هم هغه ډیر سربلند کړو او هغه ته ئې هغه نوم وبخښلو کوم چه د ټولو نومونو نه اعلی دی، د پاره ددې چه د عیسی په نوم هر یو موجودات په سجده شی، خوا که په آسمانونو کښې، یا په مزکه کښې، یا هغه چه د مزکې لاندې وی، او د خدای پلار د جلال د پاره هره یوه ژبه

اقرار وکړی چه عیسی مسیح مالک دی.
(خط د فیلیپیانو په نوم ۲: ۶_ ۱۱)

عیسی وفرمائیل: " زه لار یم، زه حق یم او زه ژوندون یم. هیڅوک زما د وسیلې نه بغیر پلار ته نشی راتلی. " (یوحنا ۱۴: ۶)

مسیحیت د مسیح سره د ځاني لوظ او سرخندنې څخه بحث کوي. مسیحیت د خدای په نوښت سره کیږي _ یعنې دا خدای وو چه دخپل ځان په نسبت دښځې او نارینه دسمولو لپاره ئې لومړنی ګام په خپله پورته کړ. عیسی مسیح د کامل خدای او کامل انسان په توګه هغه وسیله ده چه د هغې په واسطه خدای د انسان سره پخلا کیږي.